د افغانستان اسلامي جمهوریت
لوړو زده کړو وزارت
لغمان پوهنتون
ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی
کتابتون پوهنې څانګه

# کتاب انتخاب

(د لیسانس دورې پایلیک)

Ketabton.com

ترتیب کوونکی: سید عمران سادات
لارښود استاد: پوهیالی عمادالدین شهاب

کال: 1399هـ.ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تقريظ

((کتاب انتخاب)) د ښاغلي سيدعمران (سادات) د لېسانس د دورې پايليک دی، په (۲۶) مخونو کې يې د پايليک ليکنې له اصولو سره سم بشپړ کړی دی. املايي تېروتنې نه لري او زما ټولې لارښوونې يې په پام کې نيولي دي. زه يې د لارښود استاد په توګه د لېسانس دورې له پاره پوره بولم او تائيدوم يې.

په درنښت

پوهيالی عمادالدين (شهاب)

(c) ketabton.com: The Digital Library

| عنوان | لړلیک | مخګڼه |
|---|---|---|


سریزه.................................................. 1
کتاب پیژندنه.................................................. 3
د کتاب تاریخچه.................................................. 3
د ډبرو لوحې.................................................. 4
فلزي لوحې (Metal plaque).................................................. 4
د خټو لوحې (Muddy plaque).................................................. 4
د لرګیو لوحې (Wooden plaque).................................................. 4
پاپیروس(papyrus scroll).................................................. 5
د پوستکي کتاب (Codex).................................................. 6
کاغذي کتاب:.................................................. 6
د کاغذ رواج.................................................. 6
د چاپ اختراع.................................................. 6
کتاب د فزیکی شکل له نظره.................................................. 6
د کتاب برخې.................................................. 7
Title page سرلیک یاعنواني صفحه :.................................................. 8
Back of Title page یاعنواني صفحې شاته مخ او یا کتاب پیژندنه:.................................................. 8
وړاندوینه :.................................................. 8
لیکلړ یا فهرست:.................................................. 8
شکلونه (Illustrations):.................................................. 9
سریزه :.................................................. 9
د کتاب متن یا منځپانګه :.................................................. 10
پایله او لنډیز :.................................................. 10
ضمیمې یا نښلونې (Appendixes) :.................................................. 10
ماخذونو فهرست (Bibliographies) :.................................................. 11
فهرستونه یا شاخص (Indexes) :.................................................. 11
Acquisition.................................................. 12
الف : معلوماتي موادو انتخاب.................................................. 12

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب: Order د منابعو تنظیم او چمتو کول ........ 13
د منابعو چمتو کولو عملي ګامونه ........ 13
د راغوښتنې یا اخیستنې څانګه ACQUISITION SECTION ........ 14
Acquisition اړتیا او هدف ........ 15
Acquisition System وظایف ........ 15
د کتاب انتخاب ........ 16
د کتاب د انتخابولو اصول او مهارت ........ 16
د کتاب انتخابولو وسایل ........ 18
د کتاب انتخاب د کتابتون د نوعیت له نظره ........ 18
عامه کتابتون ........ 18
LIBRARY OF EDUCATIONAL INSTITUTIONS د تعلیمي ادارو کتابتون ........ 19
FACULTY / COLLEGE LIBRARY د پوهنځي یا د پاکولتی کتابتون ........ 19
د پوهنتون کتابتون ........ 20
د ښوونځي کتابتون ........ 21
ځانګړي کتابتون (Special Library) ........ 22
د کتاب انتخاب د موضوع له نظره ........ 22
د کتابتون څخه د کتاب اخیستلو اصول او قواعد ........ 23
(Borrowing Regulation) ........ 23
پایله ........ 25
ماخذونه ........ 26

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

ما له پخوا نه هیله درلوده که پدې و توانېږم ، چې لوړې زده کړې وکړم او په افغانستان غوندې وروسته پاتې ټولنه کې چې ګڼو ناخوالو د زده کړو او تحصیل مخه نیولې و کولای شم د ژوند له ستونزو سره سره زده کړې را څخه پاتې نه شي، په ۱۳۹۵ ل کال لغمان کی مې په کانکور ازموینه کې ګډون وکړ او پدې وتوانېدم چې د خپل یوه انتخاب په اساس د لغمان پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي د کتابداری اومعلوماتي ساینس څانګې ته بریالی شوم .

ځینې کسان فکر کوي چې دغه څانګه په افغاني تحصیلي سیستم کې تر ټولو ښکته څانګه دی ، خو زه بیا د دې خبرې سره موافق نه وم چې دا دې ښکته څانګه وي ځکه چې په اوسنیو حالاتو کې د کتابتون پوهنې برخې ته پام کول د هیواد د اوسنیو بدمرغیو د پای ټکی بلل کیږي او باید چې ورته جدي پاملرنه وشي .

د علم او پوهې ارزښت خورا زیات دې ما هم و غوښتل چې د لارښود استـــاد تر نظر لاندې د کتاب انتخاب اړوند یو څه ولیکم چې کتاب څه شی دی؟ د کتاب انتخابول کتابتون ته څه شی دي ؟ د کتاب انتخابولو اصول څه شی دي ؟ او دې ته ورته نورو پوښتنو ته ځواب ویل شوی دی .

اوس مونږ پداسې عصر کې ژوند کوو چې په اړه یې عموماً دا فکر کیږي چې د ساینس ، ټکنالوجۍ او کمپیوټر نړۍ ده خو د دې سره هم کتاب خپل ارزښت له لاسه ندی ورکړی بلکې نور یی هم ارزښت زیات شوی نو د دغو کتابونو د ساتلو او نورو نسلونو ته د رسولو لپاره کتابتونونه رامنځته شوي دي ، د غوره او مناسب کتاب انتخابول د هر کتابتون یو له مهمو مسؤولیتونو څخه ګڼل کېږي چې خپل استفاده کوونکو لپاره یې ذخیره کړي ، د مناسب او غوره کتاب انتخاب او را ټولونه د کتابتون په رامنځته کولو او پراختیا کې د مهمو فعالیتونو څخه ګڼل کېږي نن ورځ د علم او معلوماتو عصر ده ؛ او هره ورځ په زرګونه کتابونه مجلې ، اخبارونه ، ورځپاڼې ، او همدارنګه نور علمي مواد او معلومات چاپ او خپاره کېږي ؛ چې کتابتونونه د ځانګړو اصولو او مهارتونو په رڼا کې خپل لوستونکو ته د اړتیا وړ او ارزښتناک کتابونه او نور معلوماتي مواد انتخابوي په انګلستان ، پخوانی روم ، فرانسه ، جرمني او هندوستان کې داسې ستر ستر کتابتونونه وو چې د خپل وخت د مشهورو عالمانو او پوهانو کتابونه پکې را ټول کړل شوي وو ؛ همدی مینې او دود په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخوانیو ټولنو کې د علم د خوربدو او پراختیا لپاره ګټور کار کړی دی او نن هم مونږ داسې نظریاتو ځینې ګټه اخلو چې پیړی پیړی وړاندی رامنځته شوي او د کتابونو په شکل تر ننه په کتابتونونو کې پاتی دي ، خو په افغانستان کې په وروستي پیړی کې د جنګي کلتور د عام کېدو او د جنګ جګړو د پراخېدو له کبله کتابتونونو ته دومره پاملرنه نه ده شوې او نه هم تر اوسه داسې پرمختللي کتابتونونه جوړ شوي چې هلته خلک له کتابونو هر اړخیزه ګټه واخلي .

درنښت

سید عمران سادات

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کتاب پیژندنه

کتاب د کاغذ یا د پاڼو ټولګه ده چې په لاس لیکل شوی وي او یا هم چاپ شوی وي او په یو پوښ کې ترل شوی وي .

یا کتاب د هغو خیالاتو او افکارو مجموعه ده چې په صحافت یا چوکاټ کې د ځانګړي عنوان لاندې د یوې مطبعې د لارې چاپ کیږي.

یونېسکو مطابق : د اوراقو یوه داسې مجموعه ده چې کم تر کمه ۴۹ صفحې ولري او په مجلد شکل کې وي .

په حقیقت کې کتابونه د انساني کلتور او تمدن په تاریخ کې د انساني معلوماتو د زېرمه کولو او لېږدولو وسیله ده ؛ انسان کتابونو لیکلو ته مخه کړی تر څو د زباني او ویل شوي معلوماتو په خوندي ساتلو کې خپل ذهني حافظې ضعف له منځه یوسي

## د کتاب تاریخچه

د تاریخ په اوږدو کې بشر خپل معلومات او پوهه د کتاب په شکل ثبت او نورو ته یې د استفادې لپاره ساتلي یا محفوظ کړي دي په مختلفو پېړیو کې انسان خپله پوهه او معلومات په خټینو لوحو ، د ښارویو په هډوکو ، د ونو پر پوستکو یا ډډونو ، د ونو پر پاڼو، او نور مختلف اشکالو باندی یې ثبت کړي یا محفوظ کړي دي اوس وخت کې انسان خپل پوهه، معلومات او بشري حافظه د کاغذي کتابونو او پاڼو په شکل  ثبت کوي؛ مګر په کتابدارۍ کې د منابعو شکل مهم نه دی او تنها هغه څه مهم دي چې متن او لیکلی شکل ولري د علم له نظره کتاب هغه وسیله ده چې په هغه کې د بشر معلومات او پوهه ثبت او محفوظ شوی وي او قابل د انتقال د یو ځای څخه بل ځای ته اوسي، خټینې لوحې ، لرګیو لوحې ، پاپیروس ، چرم ، پوستکې ، د ونو پاڼې ، کاغذی کتاب، انځور، کسټ، فلم ، مایکرو فلم ، مایکروفیش ، نقشه ، CD, DVD او انټرنیټي پاڼې دغه ټول د پوهې او معلوماتو د ثبت توکي او وسایل د عامه خلکو په نظر کتاب نه بلل کیږي مګر د کتابدارۍ د علم له نظره ذکر شوي ټول توکي او وسایل کتابونه دي چې کولای شو دغه ټول وسایل په کتابتون کې وساتو ، دغه توکي او وسایل لاندې په مختصره توګه معرفي کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ډبرو لوحې**

کله چې انسان د خپل علم د ساتلو او نورو ته د رسولو په فکر کې شو نو د ډبرو له لوحو څخه یې استفاده کول شروع کړل او د نړۍ په ډیرو برخو کې له یونان څخه تر چین او له هندوستان څخه تر مکزیک پورې د ډبرو په لوحو باندې لیکنې کېدلی او له همدغو سیمو څخه ډېرې د ډبرو لوحې لاس ته راغلي دي د ډبرو د لوحو ښه والی دا وه چې د ورځنیو حوادثو په مقابل کې مقاومت یې درلوده مګر انتقال یې له یو ځای څخه بل ځای ته مشکل وه دغه ډول لیکنې په مصر کې د قبرونو په دېوالونو او په یونان او روم کې په بتانو او عبادت ځایونو په پایو او دېوالونو څخه یادونه کولی شو .

**فلزي لوحې** (Metal plaque)

د ډبرو لوحې اګر چې ډېر کلکې او مقاومت لرونکی وې مګر انتقال یې د یو ځای څخه بل ځای ته امکان نه درلود یا ډېر ستونزمن وه نو بشر دی نتیجې ته ورسېده چې لیک د فلزاتو پرمخ وکړي لکه مس، نقره ، طلا، فلزي لوحې د ډبرو لوحو په اندازه درندې (وزن) نه وې او په فلز باندی لیکنه کول اسانه وه او انتقال یې له یو ځای څخه بل ځای ته په اسانۍ ترسره کیده.

**د خټو لوحې** (Muddy plaque)

د بین النهرین د خلکو کتابونه ۳۰۰۰ دری زره کاله مخکې له میلاد څخه خټینې لوحې وی سومریانو ، بابلیانو ، او اشوریانو په خټینو لوحو باندی لیک کاوه دغه لوحې د خښتې په شکل وې او اندازې یې یو شان او برابرې نه وې مګر معمولي لوحه یې Cm ۱۵ پنځلس سانتي متره وه د خټو لوحې په اسانۍ سره له منځه نه تللې ځکه چې له لیکلو وروسته به دغه د خټو لوحې په بټۍ کې په اور باندی پخېدلې له دغو لوحو څخه تجارتي معاملاتو او دولتي اسنادو ، مذهبي اثارو ، دعاګانو ، سحر او جادو ، مقدسو افسانو په لیکلو کې تری استفاده کیده . د دغو لوحو لرغونتوب زرګونو کالو ته رسیږي.

**د لرګیو لوحې** (Wooden plaque)

لرګې، پاڼه، شاخ، او تنه د ونو له هغو وسایلو څخه دي چې په لرغوني وخت له میلاد څخه ۵۰۰ کاله مخکې د لیکنو لپاره تری استفاده کیده د لرغوني زمانې په دور کې د ښوونځي زده کوونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

قلم او کتابچه یې صاف لرګې وه ځینې وخت به یې د لرګي لوحې په موم باندې پوښلې او د لرګي یا عاج (د فیل او ځینو نورو ژوو غاښونه ) په وسیله یې پرې لیک کاوه د بیلګې په توګه رومیانو دوه د لرګیو لوحې سره وصل کړې وې چې تنني شکل د کتاب یې ترې جوړ کړی وه.

**پاپیروس**(papyrus scroll)

د کتاب شکل په لرغوني مصر کې طومار یا پاپیروس وه ، مصریانو د پاپیروس بوټي ساقه چې ارزان وه د لیکنو لپاره رامنځته کړی وه یعنې له پاپیروس څخه استفاده ۲۵۰۰ کاله مخکی له میلاد نه په مصر کې دود وه او تر شپږمی میلادي پیړۍ پوری یې ادامه درلوده د نی پواسطه یې په دی پاپیروس باندی لیکنه کوله ، پاپیروس د لیکلو لپاره مکمل مناسب وه او په اسانۍ سره په هغې باندی لیکنه کېدله په همدی دلیل تر ډېر زیات وخت یعنې تر شپږمی میلادي پیړۍ پوری یې ادامه درلوده حتی د یونان په تمدن کې هم د پاپیروس څخه په لیکلو کې استفاده کېدله مصریانو د لیک کار ته ډېره پاملرنه کوله حتی هغوی تصویري کتابونه هم لیکلي وه ، مګر زیاتره ورقې د پاپیروس د دیني رواج سره تعلق لرلو چې د هغې له جملی څخه زیاتی مقدسی لیکنې د لویانو په قبرونو باندی اینښودلی او دغه خطیبی د مړو په کتابونو باندی مشهوری وی ، د پاپیروس اختراع د مصریانو پواسطه وشوه ډیر لوی کومک د کتاب بشپړولو لپاره وشو ، ډېره پخوانۍ نسخه د پاپیروس دوه سپین پاپیروس لیکنې دي چې د یوه قبر په داخل کې د لرګي په صندوق کې په دیرشمی (۳۰ ) میلادي پیړۍ کې پیدا شوې .

پاپیروس ډېر سپک او کم حجم لرونکی وه ، پاپیروس د ختو د لوحې په خلاف ډېر غښتلی وی ؛ د یونان او روم په تمدن کې په لیکنو کې یې د پاپیروس د بوټي څخه ډېره استفاده کېدله داسې ویل کېږي چې د Paper (کاغذ) کلیمې هم د پاپیروس څخه ریښه اخیستی ده .

د اسکندریه کتابتون چې دری پیړۍ مخکی له میلاد څخه تأسیس شو سلګونه زره پاپیروس چې په مصري یوناني او عبري ژبو وه پدغه کتابتون کې موجود وه د دغه کتابتون کتابدار کالي ماکوس د کتابونو یو لیست چې شعر ، نثر ، فلسفې ، او تاریخ څخه یې چمتو کړي وه پدغه لیست کې تر ۱۲۰ زیات دغه کتابونه په پاپیروس لیکل شوي وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پوستکي کتاب** (Codex)

د پارشمن یا ویلیم په پیدایښت سره د کتاب شکل تغیر وکړ پوستکي کتاب یا کودیکس د نن ورځې د کتابونو څخه لومړنی کتاب وه چې د چرم اوږدې ورقی په مساوي ډول سره پریکیدلې او ټولی ورقی چې له یو طرف څخه ګنډل کیدلې او د لرګي پواسطه پوښ کېدلې ، کودیکس په دوهمه میلادي پیړۍ کې منځته راغی چې د مسیحیانو لخوا د متن د لیکلو لپاره یې په مذهبي ځایونو کی تری استفاده کوله دغه شکل د کتاب چې ډېر صفتونه یې لرل تر څلورمې میلادي پیړۍ پوری ادامه پېدا کړه .

**کاغذي کتاب:**

په څوارلسمې او پنځلسمې پیړۍ کې د کاغذ رواج او د چاپ اختراع دوه لوی تحولات د کتابتونونو په نړۍ کې حسابېږي .

**د کاغذ رواج**

کاغذ جوړونه په دوهمه میلادي پیړۍ کې په چین کې شروع شوه تسای لون لومړنی شخص وه چې کاغذ یې پدغه هیواد کې اختراع کړ لومړني مواد د دغه کاغذ د ونو پوستکي ، زوړه رخت او د کب نیونې جال وه ؛ په اتمه پیړۍ کې د کاغذ جوړونې صنعت افغانستان ، ایران، او عراق ته ورسېده ، اروپا تر دولسمې (۱۲) عیسوي پیړۍ پوری کاغذ نه پیژنده د دغه پیړۍ په ابتدا کې هسپانیا او وروسته د اروپا نورې برخې په کاغذ جوړونې لاس پوری کړ؛ کاغذ په (۱۴) څوارلسمې عیسوي پیړۍ په اروپا کې د خوسکي او د پسه د پوستکي ځایناستې شو، او لومړنی د کاغذ جوړونې ماشین په ۱۷۹۸ م کال کې یو فرانسوي چې نیکولالیی روبر نومیده اختراع کړ .

**د چاپ اختراع**

په پنځلسمې عیسوي پیړۍ کې دوهم لوی تحول رامنځته شو چې هغه د چاپ اختراع وه دغه اختراع په ۱۴۳۹ م کال کې د جوهن ګوتنبرګ ( Johannes Gutenberg) لخوا په المان کې صورت ونیو لومړنی کتاب چې هغه په فلزي حروفو چاپ کړ مشهور انجیل ۴۲ سطري وه .

**کتاب د فزیکی شکل له نظره**

کتاب د فزیکی شکل له نظره په دوه برخو تقسیم شوی ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ – چاپی کتاب

۲ – غیر چاپی کتاب

## د کتاب برخې

د ببلابېلو پړاونو د طی کولو وروسته کتاب برابرېږي د کتاب په تیارولو کې خپله لیکوال ، خپروونکی ، چاپوونکی او نور افراد برخه اخلي د کتاب په برخو پوهېدل مهم دي ځکه چې د کتاب هره برخه لوستونکي ته ځانګړي معلومات چمتو کوي یو کتاب د لاندی برخو او معلوماتو درلودونکی وي .

کتاب پښتۍ یا جلد :

هر کتاب څلور پښتۍ لري .

د کتاب لومړی ( اصلی مخ ) پښتۍ چې د کتاب نوم ، فورم ، د لیکوال او ژباړن نوم ، چاپ کال او اکثره وخت یو انځور چې د کتاب د منځپانګې نمایندګي کوي راځي او خپرندویه ټولنې او یا ډیزاینران هڅه کوي چې دغه پښتۍ په پوره هنر سره ښکلې جوړه کړي لیکوال ته پکار دي چې د کتاب دا پښتۍ ډېره زړه راښکونکی جوړه کړي او د منځپانګې په اړه معلومات ورکړي .

د کتاب دوهمه پښتۍ: دغه پښتۍ اکثره وخت خالي وي ولی کله پکې لیکوال د چا څخه مننه کوي خو په معیاري کتاب او ډیزاین کې باید دغه پاڼه خالي وي .

د کتاب درېیمه پښتۍ :دغه پښتۍ کې کله کله د مطبعی کوم نظر یا د لیکوال د اثارو لړلیک راځي او هم د پښتۍ د ځینو انځورونو شرحه وي.

څلورمه پښتۍ ( اخري پوښ): ډیر ځله د لیکوال اثار او پیژند پاڼه د هغه له وړوکي انځور سره یو ځای راځي او د خپرندویه ټولنې لوګو او پته هم پکې لیکل کېږي . باید ووایو چې پخوا وختونو کې د پښتو کتابونو دغه برخه ډېره خواره او بې ذوقه وه خو له نېکه مرغه چې اوس مهال سمون او نوښتونه پکې راغلي دي چې دا د خوښۍ ځای دی لامل یې هم دادی چې اوس خپرندویه ټولنې ډېری شوي او په ښه معیار کې په سیالۍ سره روانی دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سرلیک یاعنواني صفحه** Title page:

دا د کتاب لومړی پاڼه ده کوم چې د کتاب عمومي معلومات او مشخصات او د کتاب لیکوونکي معلومات لوستونکي او کتلاک جوړوونکي ته چمتو کوي پدی معلوماتو کې د لیکوال یا د لیکوالانو او ژباړونکو نوم او تخلص شامل وي .او د کتاب اصلي سرلیک ، فرعي سرلیکونه، د خپرولو ځای، د خپروني نیټه او د کتاب خپرندویه په سرلیک پاڼه کې ذکر کېږي .

**یاعنواني صفحې شاته مخ او یا کتاب پیژندنه** Back of Title page:

لکه څرنګه چې له نوم څخه یې څرګندیږي دا پاڼه د سرلیک د پاڼې شاته ده پدی پاڼه کې ډیر ګټور او مفید معلومات ذکر کېږي لکه د کتاب سرلیکونه، لیکوال یا لیکوالان او نور لیکوالان ، د خپرولو توضیحات ، بیا چاپونه ، تېری نسخې ، قیمت ، خپروونکي پته ، تلیفون شماره ،چاپ شمېر ، د خپرونو لړ او داسې نور معلومات ذکر کېږي دا پاڼه او د کتاب سرلیک پاڼه Bibliographic معلوماتو د ترلاسه کولو اصلي سرچینو څخه دي .

**وړاندوینه**:

وړاندوینه د کتاب د پیلیزو پاڼو څخه دی؛ کوم چې لیکوال د کتاب لیکلو په اړوند خپل هدف څرګندوي او هغه شیان لیکي چې ممکن د هغه د کتاب په پیژندلو کې ګټور وي او د هغو اشخاصو څخه مننه کوي کوم چې د هغه سره د کتاب په لیکلو کې مرسته کړی وي، دا پاڼه د سرلیک پاڼې وروسته او د کتاب منځپانګې او شاخص پاڼې څخه د مخه راځي ځینې لیکوالان دا برخې د نومونو لاندی حواله کوي او د لیکوال یادښت ددی کتاب په اړه او ورته .

**لیکلړ یا فهرست** :

د کتاب شاخص (فهرست) د کتاب فصلونو او برخو ته لارښود دی او د کتاب اصلي موضوعات ښیي یا لیکلړ د کتاب په داخل کې د ټولو عنوانونو یو ترتیب او تسلسل دی. پدی برخه د کتاب کې ټول شامل موضوعات په ترتیب سره تر خپل اړوند څپرکي لاندی په عدد سره راځي ، لیکلړ (فهرست) نه یواځې دا چې د کتاب موضوعات په منظم ډول ترتیبوي بلکې لوستونکي ته هم دا اسانتیا ور په برخه کوي چې هره موضوع د مخ پاڼې په نظر کې نیولو سره په کم وخت کې پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لیکلړ کې مونږه عنوانونه په کټګوریو ویشو لکه فصلونه، اصلي عنوانونه، فرعي عنوانونه، تر څو مخاطب لپاره سهولت رامنځته کړي، په لیکلړ کی باید کوښښ وشي چې عنوانونه سره جدا ولیکل شي .

اصلي عنوانونه :

دا هغه عنوانونه دي چي د یوی موضوع مکمل توضیح او تشریح مخاطب ته وړاندی کړي .

فرعي عنوانونه :

د اصلي عنوانونو لاندی وړو مسایلو توضیح او تشریح پکی وي

**شکلونه** (Illustrations):

د مطالبو له فهرست وروسته یو بل فهرست هم راوړل کېږي چې په کتاب کې ذکر شوي نښې ، لنډیزونه ، انځورونه ، جدولونه ، او نقشې پکې ځای پر ځای شوي وي . د شکلونو فهرست په کتاب کې د راتلونکو مطالبو په پوهېدو کې مرسته کوي؛ په اوسني وخت کې د شکلونو او توضحیاتو فهرست ډېر زیات اهمیت پېدا کړی دی .

**سریزه :**

سریزه د فهرست د صفحې څخه وروسته په بله پاڼه کې لیکل کېږي په حقیقت کې سریزه د کتاب د منځپانګو لنډیز دی په کوم کې چی لیکوال د کتاب موضوع او موضوعاتو او ددوی د ترتیب کولو طریقې په اړه خبری کوي. ځینې وختونه د کتاب معرفت د لیکوال پرته د بل چا لخوا لیکل کېږي دا پاڼه له کتلاک لیکوونکي سره د کتاب د موضوع په پوهېدو کې مرسته کوي. سریزه هغه کلي ده چې وروسته خزانه پرانیزي ، سریزه د علمي کتاب ، رسالې او مقالې یوه له هغو برخو ده چې د کړکۍ په څېر لوستونکی له بهر نړۍ څخه د مقالې او کتاب داخلي نړۍ ته ننباسي او د ټولې موضوع د لوستلو لپاره د نقشې حکم لري.

د سریزی له لیکلو څخه موخه دی پوښتنې ته ځواب ورکول دی چې « ولې پدی اړه څېړنه شوی » ډېر کله سریزه د هغې موضوع د لوستلو یوازینې برخه وي چې د کومی مجلې لپاره استول کېږي. څېړنې ښیي چې د مجلو ډېر مسول مدیران د مقالې د منلو یا نه منلو پر مهال پرېکړه د سریزی له

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوستلو کوي له همدی امله د مقاله لیکلو کره کتونکي وړاندیز کوي چې د مقالې لیکلو نیم وخت د سریزی او پایلې لیکلو ته باید ځانګړی شي .

**د کتاب متن یا منځپانګه :**

متن د کتاب اصلي برخه ده له سریزی وروسته شروع کېږي او هغه معلومات چې په لړلیک کې مو راوړي وي په ترتیب سره راځي او شرحه کېږي.

د کتاب اصلي موضوعات د لومړي باب یا لومړي څپرکي څخه پېلیږي او په اخري باب یا اخري څپرکي پای ته رسېږي ، بېلا بېل کتابونه د بېان د بېلابېلو طریقو سره لیکل کېږي ولی اوس مهال ډېری کتابونه باب په باب او څپرکي په څپرکي لیکل کېږي څپرکي بیا په نورو کوچنیو سرلیکونو وېشل کېږي ، ځینې وختونه دا کوچني سرلیکونه بیا په نورو برخو هم ویشل کېږي چې د پیژندلو لپاره یې عددونه استعمالیږي، د زده کوونکي لپاره اړینه ده چې ټول کوچني سرلیکونه په پوره غور سره وګوري او د هغوی په خپلمنځي اړیکه ځان پوه کړي .

**پایله اولنډیز :**

دا برخه د کتاب غور چاڼ وي راځي د دی برخې حجم د کتاب په حجم پوری اړه لري څېړونکي وایي چې د هر څپرکي په پای کې یې راوړل ښه او ګټور دي. ددی برخې په اخیره کې دا باید څرګند شي چې د څېړنې په لیکلو کې لیکوال له کومو ستونزو سره مخ شوی؟ څنګه یې حل کړي؟ ټول هغه تجربې دی پکې ولیکي چې ورته پیدا شوي دي او د راتلونکي په اړه وړاندیزونه په ماده وار شکل ولیکي . وړاندیزونه باید تخریبوونکي نه وي. موخه یې ورڅخه د راتلونکي لپاره سمون وي له ټولو هغه کسانو څخه باید مننه وکړي چې پدی څېړنه کې ورسره یې هر ډول مرسته کړي وي او یا هم ورسره سلا او مشورې یې کړي وي .

**ضمیمې یانښلونې** (Appendixes) :

بعضی وختونه د کتاب د اصلي متن څخه وروسته ځینې ضمیمې یا نښلونې هم د کتاب سره ور اضافه کېږي د بېلګې په ډول ، سندونه ، انځورونه ، خاکه ، جدولونه، نقشې او نور په ضمیمو کې ذکر کېږي د کتاب د متن څخه وړاندی د دې ضمیمو لیدل پکار وي ، چې په مرسته یې د کتاب په مطالبو پوهېدل اسانه کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ماخذونو فهرست** (Bibliographies) :

له ضمیمو وروسته د مصادرو او مراجعو فهرست لیکل کېږي پدی فهرست کې د هغو کتابونو یادونه کېږي چې پدی کتاب کي يې حوالې راغلي یا ترې لیکوال استفاده کړې وي په ځینو کتابونو کې د هر څپرکي په پای کې ماخذونه ذکر کېږي د څېړونکي لپاره د کتاب د لوستلو څخه وړاندی د مراجعو د فهرست لیدل ګټور وي چې د کتاب معیار او درجه ورته معلومه شي، ځکه چې د هر کتاب د لوړوالي او ټیټوالي معیار د مراجعو د ښه والي ، شمیر او څرنګوالي پوری تړلی وي. ماخذونه د لوستونکو سره مرسته کوي تر څو د کتاب د موضوع په اړه اضافي معلومات ترلاسه کړي .

**فهرستونه یا شاخص** (Indexes) :

په کتاب کې د ذکر شوو نومونو ، اصطلاحاتو او موضوعاتو الفبا لیست ته شاخص وايي ؛ د مصادرو او مراجعو د فهرست څخه وروسته د کتاب اشارې او فهرستونه ذکر کېږي. پدی فهرستونو کې په کتاب کې ذکر شویو اصطلاحاتو ، اشخاصو ، ځایونو ، آیتونو ، حدیثونو او نورو فهرست د صفحې د شمارې سره یو ځای د الفبا د تورو په ترتیب لیکل کېږي. د بېلګې په ډول د اصطلاحاتو په فهرست کې د الفبا د تورو د ترتیب مطابق دا واضح کېږي چې کوم کوم اصطلاحات ددی کتاب په کوم ځای کې راغلي دي. همدارنګه د ځایونو او جغرافیوي موقعیتونو په فهرست کې واضح کېږي چې یوه سیمه او ځای په کومه صفحه کې ذکر شوی دی. د موضوعاتو په فهرست کې دا بیانیږي چې کوم موضوعات او کوم مضامین د کتاب په کوم مخ کې بیان شوي دي ، ځینې وختونه دا ټول فهرستونه سره یو ځای کېږي او په فهرست کې ترتیب کېږي ، فهرستونه که چېرې په سم شکل وکارول شي نو ډیر ښه ګام دی، د دغو فهرستونو له برکته څېړونکی د ټول کتاب له لوستلو پرته خپل اړوند مقصد ترلاسه کولای شي چې پدې کار سره د څېړونکي ډیر قیمتي وخت بچ پاتې کېږي او همدارنګه شاخص له لوستونکو سره مرسته کوي چې د کتاب له متن څخه په اسانی او په کم وخت کې مختلف موضوعات او ټکي و مومي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Acquisition

د کتابتون لومړی اصل د ټولګې یا ذخیرې جوړول دي . ځکه چې د کتابتون اصول به بې معنا وي ترڅو د کتابتون مواد انتخاب او چمتو نشي د کتابتون رامنځته کولو لپاره د استفاده کوونکو په خدمت کې لومړی ګام د موادو انتخابول دي او بیا د انتخاب شوو موادو ترتیب او استفاده کوونکو ته وړاندی کول دي.

**الف : معلوماتي موادو انتخاب**

د مطبعې د صنعت پراختیا او د نشریاتو ډېربدل د ساینس او ټکنالوجی پرمختګ او د ساینسي ټولنې او اتحادیو د تولید ډېروالی ، د کتابتونونو د بودیجې کمبنت او د نرخونو زیاتوالی ، د کتابتون د ځای نه شتون او د پیرودونکو یا استفاده کوونکو او غړو او نورو ته د معلوماتو اړتیاوو له امله کتابتونونه باید د کتابونو غوره کولو کې خورا احتیاط او دقت وکړي او حتی نورې لارې چارې و مومي چې ورته اړتیا لري منابع او سرچینې چمتو کړي د مثال په توګه متقابل پور( د کتابتونونو ترمنځ امانت ورکول) یا د یو کتاب د یوې برخې پیرودل یا د یو بشپړ کتاب یا مجلې پیرودلو پر ځای مقاله اخیستل ، له همدی امله د کتابونو انتخاب او د معلوماتي سرچینو په انتخاب کې کتابداران ډېر دقت او پاملرنه وکړي ، دی پایلې ته رسیدو لپاره باید د کتابتون سرچینو په انتخاب کې ځانګړي معیارونه او اصول په پام کی ونیول شي ترڅو منابع چمتو او انتخاب کړي چې استفاده کوونکي واقعیا ورته اړتیا لري او دا اصول په لاندی ډول دي .

۱ – هغه کتابونه انتخاب او چمتو شي چې اړتیا ورته وي او د استفاده کوونکو او غړو لخوا یې غوښتنه شوی وي .

۲ – د هغو کتابونو څخه چې د یوی موضوع په اړه دي د هغوی له ډلې څخه باید غوره کتاب انتخاب شي.

۳ – د ټولو استفاده کوونکو اړتیاوې او ګټې باید په پام کې ونیول شي .

۴ – نوي او تازه کتابونه چې ګټور معلومات لري باید و ارزول شي او ژر تر ژره چمتو او انتخاب شي.

۵-د کتابتون د بودیجې په پام کې نیولو سره د هغو کتابونو کاپي کول چې ډېر لوستونکي لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶- هغه کتابونه باید انتخاب شي چې د کتابتون او د اړوندی اداري یا مؤسسې د اهدافو سره مطابقت ولري .

۷- د هیواد تاریخي او جغرافیوي ټولګه باید بشپړ چمتو او انتخاب شي .

۸- کتابدار باید هڅه وکړي چې د منابعو په ټولولو کي تعادل رامنځته کړي او هیڅ ډول تبعیض د منابعو په راټولولو کې باید دخیل نه وي .

۹- کم استفاده کېدونکي کتابونه باید مربوطه کتابتونونو او یا هم نورو کتابتونونو ته ډالۍ کړل شي .

۱۰- د کتابتون اهداف او پالیسي په نظر کی نیولو سره د اشخاصو، سازمانونو (موسسو) او ادارو لخوا مرسته یا تحفه شوي کتابونه ومني .

**ب: Order د منابعو تنظیم او چمتو کول**

کله چی مناسب او اړینی منابع او کتابونه انتخاب شي له دی څخه وروسته باید د دغو موادو او کتابونو په پیرودلو او چمتو کولو باندی اقدام وشي .

د منابعو چمتو کولو مسؤل کتابداران د کتابتون بودیجی په پام کې نیولو سره د پېرودلو، تبادلې، تحفی او د مرستو له لاری منابع چمتو کوي .

ددی ځانګې کتابداران باید د منابعو د پېرودلو پر مهال لاندی مواردو ته پاملرنه وکړي .

— وګورئ چې آیا دا کتاب د مخه ترتیب یا تهیه شوی او کنه

— وګورئ چې دا کتاب په کتابتون کي شتون لري او کنه پرېکړه وکړئ چي څنګه انتخاب شوي منابع ترلاسه کړئ ؟

— له خپرندویه څخه یی پېر (خرید) کوئ یا د تجار څخه ؟ د کتاب پلورنځیو یا د کتاب ننداړتون څخه خرید کوئ؟

**د منابعو چمتو کولو عملي ګامونه**

ددی ځانګې کتابداران باید د کتاب انتخاب کولو معیار او د کتابتون پالیسي(تګلاره ) مطابق د اړینو منابعو لیست باید چمتو کړي بیا دا لیست د کتابتون د منابعو لیست سره مل شي چی ترڅو د تکراري (Duplicate) کتابونو د پېرلو څخه مخنیوی وشي بیا پرېکړه وکړئ چې د غوښتنې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اساس کتابونه څنګه چمتو کړو. یعنې له خپرندویه څخه یې پېر (خرید) کوئ یا د کتابونو له ننداړتون څخه او یا هم د کتاب پلورنځیو څخه د کتابونو پېر کوئ ؟ له دی څخه وروسته د کتابونو پېر وکړئ.

د کتاب پیرودلو یا چمتو کولو وروسته په کتابتون کې ترلاسه شوي کتابونه Receipt (رسید) سره تطبیق کیږي تر څو هیڅ غلطي ونشي بیا هغه کتابونه ، مجلې او نوری منابع چې کتابتون ته رسېدلي دي ، د خوندیتوب او صحت لپاره یې چیک یا بیاکتنه کوو .که چېرې پیرودل شوی کتاب شلېدلی یا خراب شوی وي نو دغه کتاب د بدلولو لپاره بېرته کتاب پلورونکي ته ورکوو .

بیا وروسته کتابونه په کتابتون کې ثبت او ټاپه یا مهر کېږي .

ددی عملیاتو وروسته کولی شو چې کتابونه د کټلاک او ډلبندي کولو لپاره دغو څانګو ته ولیږو.

## د راغوښتنې یا اخیستنې څانګه ACQUISITION SECTION

دغه څانګه (شعبه) په کتابتون کې د ذخیرې د پراختیا یو مهم فعال واحد دی دا څانګه د مطالعې اړوند مواد یا معلوماتي سرچینې ترلاسه کوي لکه ژورنالونه ، کتابونه، برېښنایي کتابونه او مجلې چې د موجوده او احتمالي استفاده کوونکو لپاره ګټور دي ، په معلوماتي سرچینو کې لاسوندونه (خطي نسخې)، سریالونه، ژورنالونه، مجلې ، ورځپاڼې ، اختراعاتو ثبت (Patents)، مقاله (Thesis)، مونوګرافونه ، نقشې ، اطلس (Atlas)، ګلوب (Globe) او داسې نور شامل دي چې د لوستونکو لپاره مناسب ګڼل شوي دي ؛ منظم پلان شوی استملاک (Acquisition) باید د شته فنډونو مجموعه یا ذخیره ، تخنیکي زیربناوو او د کارمندانو موجودیت محاسبه کړي .

کتابتون لپاره نا ممکن دي چې په نړۍ کې خپاره شوي د هرې سرچینې پېر(خرید) وکړي .

نو Acquisition باید داسی ډول پلان شي چې تر ټولو غوره او مناسب مواد د موجوده موادو یا سرچینو څخه ترلاسه کړي تر څو د کتابتون اهداف ترلاسه شي یعنې د کتابتون د اهدافو څخه یو هدف هم د معلوماتو راغوښتنه یا لاسته راوړل دي.

کتابتون د فکري میراث د ساتنې لپاره معلوماتي مواد هم لاسته راوړي چې د هغې د اندازې پورې اړه لري. د کتابتون ساحه ممکن کېدای شي ځایي وي یا سیمه ایز او یا هم ملي او نړیوال وي د مثال په توګه د هندوستان ملي کتابتون چی په کلکته کې موقعیت لري د ټول هیواد د فکري

(c) ketabton.com: The Digital Library

میراثونو او اړوندو معلوماتي موادو د ساتلو مسؤولیت لري پداسې حال کې چې د هماچل پردیش د کنګرا د سیمې کتابتون ده ممکن یواځې د هغې سیمې پورې اړوند معلوماتي مواد خوندي کړي . د معلوماتي موادو ډولونه د ټولنې د پرمختګ سره وده کړي چیرې چې کتابونه نور د کتابتون یواځینۍ سرچینې نه دي .

**اړتیا او هدف** Acquisition

کتابدار مسؤولیت لري چې د شته مالي سرچینو په پام کې نیولو سره غوره معلوماتي مواد چمتو کړي مګر په ورته وخت کې کتابتون هم خپل محدودیتونه لري .

الف: د ځانګړو معلوماتي موادو د ترلاسه کولو لپاره کتابتون ته ټاکلی مقدار بودیجه ورکول کېږي له همدی امله د موادو او د معلوماتي سرچینو ترلاسه کول باید د محدودی بودیجې په چوکاټ کی سرته ورسېږي . د معلوماتو زیاتوالی ددی لامل شوی چې په ټوله نړۍ کي د معلوماتي موادو مقدار او نوعیت خورا ډیر شي. پدی توګه کتابتون لپاره نا ممکن دي چې ټول مطلوب موجوده مواد ترلاسه کړي، دا نشریات یا خپرونې د عمومي کتابونو، درسي کتابونو ، ماخذي کتابونو، نقشې ، اطلس، کره ، ډیجیټل او Multimedia (څو رسنیز) بنسټیز مواد دي او داسی نور، نو له همدی کبله کتابتون ته د موادو Acquisition ( اخیستنې ) اړتیا ده باید په مناسب ډول پلان شي .

الف: پلان شوی **(Acquisition System)** اړین دی چي د کتابتون هدف ترلاسه کړي، د کتابتون د استفاده کونکو اړتیاوې پوره کړي، د کتابتون لپاره مناسب منابع یا لوستونکي مواد لاسته راوړي، د کتابتون په چوکاټ کي د ارزښت لرونکو موادو لاسته راوړل .

د پورته ذکر شوو اهدافو ترلاسه کولو لپاره یو کتابتون سالم فعال Acquisition System ته اړتیا لري.

**وظایف** Acquisition System

د موادو د لاسرسي یا ترلاسه کولو د پروسې د بشپړولو لپاره لاندی اساسي وظایف دي.

(۱) انتخاب ، ترتیب ، موادو ترلاسه کول

(۲ ) د موادو لغوه کول

(۳ ) د موادو لاسرسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب انتخاب

د کتابداری د مهمو وظایفو څخه یو هم د کتاب انتخاب او کتابتون ته د موادو برابرول دي خو پدی شرط چي استفاده کوونکو لپاره ګټور او ارزښتناک و اوسي چي د لوستونکو رضایت د کتابتون نه په مستقیمه توګه د کتابي موادو پوری مربوط ده چی د هغه د لاسرسی ور ګرځول کېږي.

د کتاب د انتخاب لپاره کتابتونونو ته عمومي اصول وجود لري چی دغه اصول کولی شي چي هر نوع (ډول) کتابتون کې عملي شي آما مخکې له دی چې دغه اصول عملي او تطبيق شي نو لازمه ده چې د کتابتون هدف روښانه وي لکه عامه کتابتون ، علمي کتابتون ،د ښوونځی کتابتون یا ځانګړی کتابتون وي او یا نور کتابتونونه وي چې هر یو کتابتون ځانته اهداف لري ، چې هر یو کتابتون د ډول په لحاظ یو له بل څخه جلا کېږي ولی په وجود د جلا والي د کتابتونونو د ډول (نوعیت) په لحاظ بیا هم داسې اهداف وجود لري چې د ټولو کتابتونونو لپاره یو شانته دي او د هر ډول کتابتون لاره او طريقه روښانه کوي پرته له دی چې د هغه ډول (نوعیت) په پام کې ونیسو او د هر ډول کتابتون د کار کولو میتود (څرنګوالی) روښانه کوي پرته له دی چې د هغه نوعیت په پام کې ونیسو .

### د کتاب د انتخابولو اصول او مهارت

هغه اصول چې په کلي ډول اهداف د کتابتونونو، د کتاب د انتخاب مهارت (میتود) رهبري کوي عبارت دي له :

(۱) مناسب (سم) کتاب انتخاب د ټولنې د ټولو غړو لپاره یعنې کومه ټولنه چې کتابتون پوری اړه ولري .

(۲ ) د کتاب په انتخاب کې باید هيڅ نژادي ، مليت ، عادتونه ، ځايي دودونه، حرفه ، مذهب او نورو و غيره بايد په پام کې و نه نيول شي يعنې ددوی ترمنځ توپيرونه په پام کي ونه نيول شي .

(۳ ) د کتابتون ټولګه یا ذخیره باید د ځانګړې طرحې مطابق پلان او د کتابتون د عمومي او مشخصې بوديجې سره سم چمتو شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۴ ) د کتاب په انتخاب کې یو مهم فکتور (عامل) غوښتنه ده او غوښتنه ممکن د لوستونکي لخوا ترسره شي او یا هم د کتاب ارزښت وي .

(۵ ) انتخاب شوي کتابونه او نور مواد باید د غوره جنس څخه وي .

(۶) د متوسط کتاب پیرودل چی لوستل کېږي د عالي (ښه) کتاب څخه غوره او بهتره ده چې نه استفاده کېږي باید داسی کتابونه و پېرودل شي .

(۷) د موادو جنسیت او کیفیت د کتاب د انتخاب دوه اساسي معیارونو پوری اړه لري.

لومړی د کتابتون هدف .

دوهم د استفاده کونکو او مراجعینو اړتیا .

(۸) د کتابتون ذخېره به جامع (پراخه ) او هر اړخیزه وي او ټول هغه مواد به پکې شامل وي چي د کتابتون هدف ته وده ورکولو کي مؤثره وي .

(۹ ) د کتاب په انتخاب کی اساسي کار د ټولنې پیژندل دي پدی حالت کې کتابدار دوه ډوله معلوماتو ته ضرورت لري .

الف: د مختلفو ټولنو په اړه عمومي معلومات درلودل .

ب : د خپل اړوند ټولنې او د لوستونکو د اړتیاوو په اړوند ځانګړې پوهه او پوهاوی درلودل .

(۱۰ ) هر کتابتون د کتاب د انتخابولو میتود (څرنګوالی) لپاره لیکلی پالیسي (تګلاره) لري دا پالیسي (اصول) د عمومي لارښود په توګه کتابدار سره مرسته کوي چې د کتابتون د هدف په اساس مناسب (سم) کتاب و ټاکي همدارنګه د هغه سره همکاري کوي چي د ثابت قضاوت سره د کتابتون مقدار ، کیفیت او بودیجه کی انډول وساتي .

البته دا اصول په ړندو سترګو نشي کارول کېدای مګر ددی اصولو په رعایت کولو سره کتابدار همیشه ځان مسؤل وګڼي او په دوامداره توګه یې څارنه وکړي .

ددی اصولو عملي کول وخت، فکر ، هڅې او پوهې او د خلاقیت ځواک ته اړتیا لري.

په هر صورت د کتاب انتخابولو لپاره هیڅ ریاضیکي فورمول شتون نه لري بلکې د کتاب انتنخاب د شرایطو په اساس ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب انتخابولو وسایل

د کتاب د انتخابولو وسایل عبارت دي له ملي ببیلوګرافي ، تجارتي ببیلوګرافي ، د انتخابولو ببیلوګرافي ( Selection Bibliography ) د نوو (جدید) کتابونو کره کتنه (نقد و برسی) ده چې په ورځپاڼو، راډیو او تلویزیون له لارې معرفي کېږي او یا د ذخیره کولو یا د ټولولو په توګه د کتابدار د لاسرسي وړ ګرځي .

## د کتاب انتخاب د کتابتون د نوعیت له نظره

کتابتونونه د هدف استفاده کوونکو او مجموعی له نظره په مختلفو ډولونو وېشل شوي دي لکه عامه کتابتونونه چې خپله د اندازې ، استفاده کوونکو او د محلي موقعیت له نظره توپیر لري یا مختلف دي؛ همدارنګه د پوهنتون کتابتون ، د ښوونځي کتابتون ، د انستیټیوټ کتابتون ځانګړي کتابتونونه او نور کتابتونونه چې د هدف ، استفاده کوونکو او د ذخیرې له پلوه یو له بل سره توپیر لري.

## عامه کتابتون

عامه کتابتون د ټولنې په فرهنګي او ساینسي ژوند کې ستر رول لوبوي دا کتابتون د ځانګړې طبقې یا ډلې ته نه دی وقف شوی مګر د زده کوونکو، ښوونکو، څېړونکو ، او کارګرانو مختلفو ډلو لخوا کارول کېدای شي دا کتابتون د عامه مالیاتو له لارې تمویل کېږي ، عامه کتابتون اداره کول د رئیسانو بورډ یا د محلي ټاکل شوی شورا مسؤولیت دی. عامه کتابتونونه د پوه اشخاصو ، لویانو ، بندیانو ، معلولینو او ټېپیانو لپاره اسانتیاوې هم برابروي ؛ د ماشومانو او تنکي ځوانانو کتابتونونه همدارنګه ګرځنده کتابتونونه د عامه کتابتون څانګې دي . په عمومي توګه د عامه کتابتون وظایف عبارت دي له :

(۱) د معلوماتي مراکزو رامنځته کول چې له لارې یې کولې شي نوي اتباع د ساینسي مسلو او د ټولنیز ژوند پېچلي جوړښت سره وپېژني او ځایي اړتیاوې یې پوره کړي .

(۲) د علمي او تحصیلي کنفرانسونو جوړول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څرنګه چې د عامه کتابتون ټولنه یوه مختلفه ټولنه ده چې ټول افراد، ډلې، د زده کړې او د پوهې د کچې مختلف استفاده کوونکي عامه کتابتون ته مراجعه کوي ؛ باید چې د عامه کتابتون ذخیره یا مجموعه ځواب ویوونکې د مربوطه ټولنې د ټولو غړو د اړتیاوو و اوسي.

## LIBRARY OF EDUCATIONAL INSTITUTIONS **د تعلیمي ادارو کتابتون**

د تعلیمي ادارو کتابتونونه عبارت دي له: پوهنتونونو، لوړو زده کړو مؤسسې ، ادارې ، لیسې ،متوسطه ښوونځي، ابتدایه ښوونځي او د مدرسو کتابتونونه او داسې نور.

باید متوجه و اوسو چې د پوهنتون کتابتون او مؤسسې (Institute) کتابتون نظر په ضرورت د مراجعه کوونکو او د مجموعې ( ټولګه) د هدف لمخې متفاوت دي په همدې ترتیب د کتاب انتخاب د دغو دوو ادارو ترمنځ متفاوت دي تر هغه ځایه چې (Institute) په یو یا څو رشتو پورې تړلې وي تخصص ورکوي تر ډېره پورې د College کتابتونونو سره د مقایسې وړ ده ځکه چې پدې دواړو کتابتونونو کې د کتاب د انتخاب اصول تقریبا یو شانته دي .

## FACULTY / COLLEGE LIBRARY **د پوهنځي یا د پاکولتې کتابتون**

دغه کتابتون د پوهنځي یا د College په درسي نصاب کې له زده کوونکو او استادانو سره مرسته کوي او یا هغه څوک چې په پوهنځي کې زده کړې کوي له هغو سره په نصابي تدریس کې مرسته کوي. د دغه کتابتون استفاده کوونکي یا مراجعان هغه خلک دي چې لږ تر لږه د Diploma (شهادت نامه )لري او هڅه کوي د لیسانس سند ترلاسه کړي .د دغه کتابتون ذخېره نه باید زیات تخصصي و اوسي. پدغه کتابتون کې د کتاب انتخاب اکثراً د سرلیکونو کیفیت او ارزښت په اساس دي .پدې کتابتون کې د کتابونو او نورو علمي موادو انتخاب د استادانو او د کتابتون د کتابدار او زده کوونکو د وړاندیزونو پر اساس کیږي ، مګر نهایي انتخاب د کتابدار مسؤولیت دی. د کتابونو د پیرودلو لپاره د بودیجې چمتو کول او د کتابتون لپاره د کتابدار ټاکل د پوهنتون او د پوهنځي د رئیس دنده ده .

او دغه کتابتون ته د کتاب انتخاب د بیا کتنې (نقدوبرسی ) او د پوهنځي د درسي موادو په اساس ترسره کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنتون کتابتون

د پوهنتون کتابتون معمولاً پراخه او تخصصي وي د Institute له کتابتون څخه . د پوهنتون کتابتون په ځانګړې توګه د یو مرکزي کتابتون او د څو پوهنځیو د کتابتونونو څخه تشکیل شوی وي خو دلته ترې منظور د پوهنتون مرکزي کتابتون ده .
د پوهنتون کتابتون ټولنه (استفاده کوونکي) مختلف ډوله ده د یو مستقل پوهنځي د کتابتون په پرتله . مګر د پوهنتون کتابتون د عامه کتابتون په پرتله پیچیده (مغلقه) او د استفاده کوونکو ډیر هجوم پرې نه وي.
د پوهنتون کتابتون استفاده کوونکي عبارت دي د لیسانس او ماسټري د دورې زده کړیالان همدارنګه د دکتورا د دورې زده کړیالان، استادان او څیړونکي دي .
د پوهنتون کتابتون اهداف عبارت دی له :
الف : مرسته کول په درسي پروګرامونو کې د پوهنتون د ټولو رشتو او ځانګو سره په پراخه سطحه
.ب: علمي کدرونو سره په څیړنه کې مرسته کول.
ج: مرسته کول په څیړنو او درسونو کې په لوړه سطحه او پورته د لیسانس نه په تخصص کې . دغه مسایل ددی سبب ګرځي چې د پوهنتون د کتابتون ذخیره ګران بیه او علمي وي او د استفادې کچه یې کمه وي. د پوهنتون کتابتون ته د کتاب د انتخاب لپاره باید د ټولو علمي ټولنو نشریات چې د مختلفو هیوادونو او ژبو مربوط وي د نظر لاندی ونیول شي او د بهرنیو بیبلوګرافیانو څخه د کتاب په انتخاب کې استفاده باید وشي . همدارنګه د پوهنتون د کتابتون ذخیرې ته د کتابي موادو ترڅنګ باید چې غیری کتابي مواد هم انتخاب شي.
د پوهنتون کتابتون ته د موادو انتخاب کوونکي عبارت دي له :
د کتابتون کتابدار او غړي، علمي کدرونه چې د زده کړیالانو وړاندیزونه به په نظر کې نیسي.
د پوهنتون کتابتون ته د کتاب د انتخاب پیچیده ګي یا مشکلاتو مهم عوامل عبارت دي له :
څو قسمه علمي مواد ( مختلف ډوله علمي مواد ) یعنې په هر اندازه چې په کتابتون کې علمي کدرونه او د زده کړیالانو تعداد زیات وي نو د انتخاب کار ستونزمن کیږي مثلاً د یو لوی پوهنتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کتابتون کې د کتاب د انتخاب او بيبلوګرافي څانګه وي، د دغی څانګې وظيفه ده چې د کتابتون په ذخيرې کې تعادل ساتل، په ذخيره کې تازه والی او پراخوالی (زياتوالی) راوستل د پوهنتون د ټولو تعليمي رشتو لپاره ، او دقت کول د کتابونو په پيرودلو کې د مختلفو برخو لپاره .
د کتاب د انتخاب کولو وسايل د کتاب د بيا کتنې (نقد و برسی) او بيبلوګرافيانو سربيره ځانګړي کتلاکونه ،تجاران او خپرندويه (ناشران) هم دي. د ذخيرې پراختيا د کتابتون سره د تعليمي بورډ د غړو همکاري او د کتابونو ترتيب او انتخاب لپاره د ټولو پراخه سرچينو راټولولو له امله دی .

## د ښوونځي کتابتون

له دغه کتابتون څخه هدف مرسته کول دي په درسي پروګرامونو کې له زده کوونکو سره يا راټولول د ضروري موادو دي چې د زده کوونکو لپاره د استفادې وړ وي لکه نوي درسي کتابونه، زده کړيزو خدماتو وسايل او نور لوستونکي مواد د ماشومانو او ځوانانو لپاره چې د ښوونځي د زده کوونکو يو ګروپ تشکيلوي برابروي .

د ښوونځي د کتابتون لپاره د کتاب د انتخاب مشکلات عبارت دي له :

الف: د سانسور مسله

ايا کتاب بايد پدی ډول وټاکل شي چې ماشوم د رژيم (نظام) او ټولنيزو غوښتنو سره سم پيدا شوی ؟دې پوښتنی ته ډير مثبت او منفي ځوابونه شتون لري مګر په عمومي ډول دا د کتاب لپاره يوه لاره ده چې له ماشوم څخه مثبت شخص جوړ کړي او په هغه کې عالي انساني ځانګړتياوو ته وده ورکړي .

سربيره پر دی هغه کتابونه او مواد چې د مغلقو او مهمو فلسفي ، ټولنيزو او مذهبي مسلو سره چې د ماشوم د شعور، درک او فهم څخه بهر دي ور نه کړل شي ځکه چې دا ممکن ددی برعکس د تل لپاره د لوستلو (مطالعی) سره د ماشوم مينه بې خونده کړي.

ب: تر هغه ځايه چې د ښوونځي زده کوونکي د مختلفو سنتي ټولنو څخه دي . د دوی د پوهې ، لغاتو، لوستلو سرعت او معلوماتو کی خورا لوی توپير شتون لري نو له همدی امله ماشومانو او تنکي ځوانانو ته د مناسب کتاب په ورکولو کې ډيره پاملرنه بايد وشي . د کتاب انتخاب د ښوونځي کتابتون ته د کتابدار او د ښوونکو مسؤليت دی .د کتاب انتخاب د نصاب د اړتياوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

، د زده کوونکو د غوښتنو او د زده کوونکو د والدینو د وړاندیزونو پر اساس ده .همدارنګه په حرفه یي او هنري ښوونځیو کي باید د حرفه او هنر اړوند کتابونه په نظر کې ونیول شي .

## ځانګړې کتابتون (Special Library)

د ځانګړي (خصوصي) کتابتون استفاده کوونکي یو شان او ورته وي او مشخص هدف لري. دوی معمولاً د یوې مؤسسې یا د یو شرکت یا د یوې ادارې کارمندان وي . هدف د دغه کتابتون د کارمندانو سره د خپلې مؤسسې یا ادارې اړوند څېړنیزو او تحقیقاتي امورو کې مرسته کول دي. یا د مؤسسې یا د شرکت په مربوطه فعالیتونو کې مرسته کول دي په همدی دلیل د ځانګړي کتابتون ساحه محدوده ده او دغه کتابتون په معمول ډول د بودیجې ستونزه نه لري مګر د کتاب د انتخاب کار پکې ډیر ستونزمن ده ځکه چې دغه کتابتون ته د تحقیقاتي راپورونو، دولتي نشریاتو او ټولو څېړنیزو موادو پر انتخابولو تاکید شوی چې پیدا کول د دغو موادو ستونزمن دي . د ځانګړي کتابتون کتابدار باید د خپل مربوطه مؤسسې د اشخاصو او اداراتو اړوند پوهاوی ولري.

د ځانګړي کتابتون مواد باید سمدستي ترتیب شي مګر د ځانګړي او نوي موضوعي بیبلوګرافي نه شتون دغه کار ستونزمن کوي. د ځانګړي کتابتونونو ذخیره یا مجموعه معمولاً په پراخه کچه پمفلیټونه ، مجلې ، راپورونه، زیات ارزښت لرونکي یادښتونه او نور غیر کتابي مواد پکې شامل وي.

نوټ : بالاخره ویلی شو چې د کتاب د انتخاب لپاره پورته یاد شوي اصول باید د کتابتون د ډول (نوعیت) مطابق او د ځانګړي کتابتون اړتیاوو سره سم عملي شي مګر د کتاب اصلیت او موجودیت کی د پام وړ بدلون شتون نه لري .

## د کتاب انتخاب د موضوع له نظره

د کتاب غوره کولو لپاره ذکر شوي اصول نه یوازې د کتابتون د ډول (نوعیت) لمخې تغیر کوي بلکې کتابونه د موضوع له نظره هم تغیر کوي د مثال په توګه د کیسو یا افسانو کتاب او یو علمي کتاب چې د کیمیاوي خواصو له عناصرو څخه بحث کوي د درستوالي او د موضوع له نظر ه توپیر لري له همدی کبله باید د کتاب د انتخاب معیارونه په مختلفو موضوعاتو کې لکه مذهب ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

فلسفه ، اروا پوهنه ، ټولنيز علوم ، ښکلي هنرونو علوم، ژبه او ادبيات، تاريخ او جغرافيه کې ځانګړي عمومي توپيرونه بايد په هرى موضوع کې مراعات شي لکه علمي کتابونه د تازه والي ( نوي والي ) د صحت او دقت له نظره مهم دي خو په ادبي کتابونو کې د تازه والي مسله مطرح نه ده بلکې د اندازه کولو معيار يې هنر او ښکلا ده .

## د کتابتون څخه د کتاب اخيستلو اصول او قواعد

(Borrowing Regulation)

د کتابتونونو څخه د يو ځانګړي سيستم له مخې کتابونه اخيستل کيږي. د کتابتونونو اداره کوونکي دغه سيستم رامنځته کوي، نو ځکه د کتابتونونو څخه د کتابونو د اخيستلو بېلابېل شکلونه موجود دي، ولې بيا هم ددې شکلونو ځينې ګډ عناصر په لاندې ډول دي :

١. کتاب د ترلاسه کولو شرايط

په کتابتونونو کې محصل ته کتاب ورکولو لپاره د کتابتون د ځانګړي کارت درلودو شرط وضع کيږي. ځينې کتابتونونه د پوهنتون کارت نه قبلوي او د کتابتون په ځانګړي کارت تاکيد کوي

٢. د کتاب د ترلاسه کولو وخت

په ځينو کتابتونونو کې د کتاب د ترلاسه کولو لپاره ځانګړي وختونه ټاکل شوي وي، ددغو وختونو څخه وړاندې او وروسته چاته کتاب نه ورکول کېږي.

٣. د کتابتون څخه د ترلاسه کېدونکو کتابونو شمېر

په يو وخت کې د کتابتون څخه د ترلاسه کېدونکو کتابونو شمېر ټاکل کېږي، محصل يا استاد په يو وخت کې ددغه ټاکل شوي شمېر څخه زيات کتابونه نشي ترلاسه کولای

۴. د کتاب د بيرته راوړلو موده

په ټاکل شوې موده کې د کتابتون څخه د ترلاسه شوي کتاب بيرته راوړل اړين دي. دغه ټاکل شوې موده کله يوه اونۍ، کله دوه اونۍ، کله يوه مياشت او کله بيا يو کال وي.

۵. هغه کتابونه چې چاته نه ورکول کېږي

په هر کتابتون کې يو شمېر داسې کتابونه هم موجود وي، چې چاته په امانت نه ورکول کيږي، بلکې د هغو څخه يواځې په کتابتون کې استفاده کېداى شي. په عمومي ډول دايرة المعارفونه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرستونه،ژوند لیکونه، قاموسونه، نادر کتابونه، تیزسونه او مجلې چاته نه ورکول کېږي او یا یې په ورکولو ډېر سخت شرایط وضع شوي وي.

۶. په ډېر احتیاط سره ورکول کېدونکي کتابونه

په کتابتونونو کې ځینې داسې کتابونه هم موجود وي، چې هر وخت یې هر څوک ترلاسه کولای نه شي. د داسې کتابونه په ورکولو کې د ډېر احتیاط څخه کار اخیستل کېږي. کتابتونونه د داسې کتابونو په ورکولو کې ډېر سخت شرایط وضع کوي. په ځینو کتابتونونو کې ماښام د کتابتون د بندېدو پر مهال دا ډول کتابونه خلکو ته ورکول کیږي او دا شرط پرې وضع کېږي چې سبا ته سهار مهال یې باید بیرته کتابتون ته وسپاري.

۷. د وروسته راوړلو جریمه

هر کتابتون د کتاب د وروسته راوړلو او تاخیرولو په بدل کې په خلکو جریمه وضع کوي. دا جریمه د کتاب اهمیت ته په کتو کمه او یا هم ډېره وي. عموما دا جریمه د ساعتونو یا ورځو په وروستوالي سره وضع کېږي او د ډېرو مهمو کتابونو جریمه د نورو کتابونو په پرتله زیاته وي.د دې جریمې موخه دا وي چې د کتاب وړونکی اصولو او مقرراتو ته پابند پاتې شي.

۸. د کتاب ورکولو جریمه

د کتاب د ورکولو اوضایع کولو په صورت کې د اړونده شخص څخه تاوان اخیستل لاژم دي او دا تاوان او جریمه هم د کتاب اهمیت ته په کتو لږه یا ډېره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله

له معمول سره سم د څلورم ټولګي د دويم سمستر په جريان کې هر زده کړيال د لارښود استاد تر نظر لاندې يوه ځانګړې موضوع اخلي په هکله يې ليکنه کوي او خپل معلومات له لوستوونکو او اورېدونکو سره شريکوي چې دی ته په مروجه توګه مونوګراف ويلی شو ما هم په دی لړ کې يوه مشخصه موضوع د (کتاب انتخاب ) تر نامه لاندې اخيستې د خپل وس او توان تر اندازې پورې مې کار پرې کړی دی ، له باوري منابعو او سرچينو څخه پکې ګټه اخيستل شوې ده .

نوموړی موضوع د کتاب انتخاب په اړوند دا عناوين په بر کې نيسي . کتاب پيژندنه ، د کتاب برخې ، د کتاب تاريخچه ،Acquisition ، Acquisition section ، Acquisition اړتيا او هدف، د کتاب انتخاب ، د کتاب انتخابولو اصول او مهارت ، د کتاب د انتخابولو وسايل ، د کتاب انتخابول د کتابتون د نوعيت له نظره ، د کتاب انتخابول د موضوع له نظره ، د کتابتون څخه د کتاب اخيستلو اصول او قواعد او دی ته ورته نور فرعي عنوانونه لري.

کتاب د کاغذ يا د پاڼو ټولګه ده چې په لاس ليکل شوی وي او يا هم چاپ شوی وي او په يو پوښ کې تړلی شوی وي. يا کتاب د هغو خيالاتو او افکارو مجموعه ده چې په صحافت يا چوکاټ کې د ځانګړي عنوان لاندې د يوی مطبعې د لاری چاپ کېږي ، د کتاب انتخاب د کتابدارۍ د مهمو وظايفو څخه ګڼل کېږي ، اوسنی عصر د معلوماتو او ټکنالوجۍ عصر ده چې هره ورځ زيات کتابونه او مجلې ، ورځپاڼې او نور معلوماتي مواد نشرېږي او يا هم چاپ کېږي ، نو کتابتون نشي کولای چې دغه ټول مواد کتابتون لپاره و پېری يا يې انتخاب کړي بلکې د خپل مالي امکاناتو ته په کتو سره هغه معلوماتي مواد انتخابوي چې لوستونکو لپاره اړين او يا هم ارزښتناک وي او يا هم د لوستونکو د غوښتنو او وړانديزونو په اساس معلوماتي مواد انتخابوي .

په پای کې له ټولو ښاغلو استادانو څخه د زړه له کومې منننه کوم چې له موږ سره يې په درسي او معنوي چارو کې نه ستړی کېدونکي هلې ځلې کړي دي په ځانګړي توګه له ښاغلی استاد پوهيالی عماد الدين شهاب څخه نړۍ منننه او کور ودانی چې له ما سره يې د مونوګراف پرمخ بيولو کي مرسته کړې ده په نېکو مشورو او لارښوونو يې نازولی يم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ماخذونه


۱) امانی ، دکتر غفور، اشنایی با کتاب و کتابخانه و اصول کتابداری ( ۱۳۸۰ هـ.ش) انتشارات شیخ صفی الدین .

۲ ) بنوری ، پوهنیار سید ضیاء الرحمن ، Reference sources and services لکچر نوټ ،۱۳۹۸ ل. لغمان پوهنتون :د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی د کتابتون پوهنې څانګه .

۳ ) رحماني ، ګل رحمن ، مونوګراف لیکنه ، (۱۳۹۱ ل) ګودر خپروندویه ټولنه .

۴)رهنمود آموزشی موسسه زنان کانادا برای زنان افغانستان . معلومات عمومی کتابداری و رشد فرهنگ کتابخوانی (۱۳۹۴ هـ . ش)

۵) لامبرت ، جیل ، انتخاب منابع اطلاعاتی (۱۳۸۰ ل ) ژباړن مهری صدیقی. تهران : مرکز اطلاعات و مدارک علمی ایران .

۶) ملک ، دوکتور خالق داد ، د څېړنې او لیکنې تګلاره (۱۳۹۶ ل ) ژباړن معراج الدین امینزی

۷). نشریه کتابخانه های عامه ، شماره هفتم و هشتم ، فصل اول (۱۳۸۵ هـ.ش)

۸) نشریه کتابخانه های عامه ، شماره ۹ فصل دوم (۱۳۸۵ هـ .ش)

۹) وردګ ، مبین ، کتاب پیژندنه مونوګراف (۱۳۹۵ل ) لغمان پوهنتون ادبیات او بشري علومو پوهنځی کتابتون پوهنې څانګه .

۱۰) International encyclopedia of information and library science ,second edition (2003) published by Rutledge in the USA and Canada .

۱۱) Library and information science , first edition (June 2015) published the secretary, central board of secondary education . shiksha kendara ,2, community v ihar,delhi-110301 center preet

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**